## د بشری چارو کارکونکو لپاره د جنسی چلند اصول

د بشری چارو کارکونکی – **د ناوړه جنسی اړیکو د درلودلو پخاطر – مجازات کیدای، او حتی منفک کیدای شی.** دوی باید د لاندنی اصول مراعت کړی:

- د بشری چارو کارکونکی اجازه نلری چی د ۱۸ **کالو نه د کم عمر شخص سره جنسی اړیکی ولری، ولو که دغه کار د دوی په هیواد کی قانونی هم وی.** ادعا کول چی گویا دوی د شخص د اصلی عمر نه خبر نه وو، مشروع بهانه نشی کیدای.
- د بشری چارو **کارکونکی اجازه نلری چی د جنسی اړیکو په مقابل کی د پیسو، اجناسو یا خدماتو نه استفاده وکړی** – په شمول د هغه اجناسو او خدماتو چی د مستحقو کسانو سره د مرستی لپاره وقف شوی دی. دوی باید د دغه شیانو د ورکولو د وعدی څخه په استفادی خلک مجبور نکړی چی د دوی شرمونکی او استثماری چلند ومنی، په دی کی د فحشا لپاره د پیسو ورکول هم شامل دی.
- د بشری چارو کارکونکی دا نفوذ لری چی چاته باید اجناس او خدمات تهیه شی. دغه کار دوی ته د مستحقو کسانو پر سر د قدرت موقف ورکوی. بدغه خاطر، **د بشری چارو ناظمین مکلف دی چی کارکونکی په کلکه وهڅوی ترڅود هیچ هغه چا سره چی د بشری عاجلو مرستو پواسطه متاثر کیږی جنسی اړیکی ونه لری** . دغسی اړیکی بشری چاری د خلکو په سترگو کی بی اعتباره او نا ریښتونی معرفی کوی.
- که د بشری چارو کوم کارکونکی **اندیښنه لری او یا مشکوک وی** چی د دوی په موسسه کی او یا په کومه بله خیریه موسسه کی د جنسی چلند اصول تر پښو لاندی کیږی، دوی یی باید د هغه **اصولو نه په استفادی سره** چی د دوی د اداری لخوا مشخص شوی دی، راپور ورکړی.
- د بشری چارو کارکونکی باید د کارکولو **یو داسی چاپیریال رامینځته کړی چی** د جنسی نامنل شوی چلند نه مخنیوی وکړی او کارکونکی و هڅوی **چی د چلند د اصولو سره سم کړنه وکړی.** د دغسی یو چاپیریال په ساتلو او رامینځته کولو کی **تول آمرین** مسئول شمیرل کیږی.

دلته د جنسي استحصال او ناوړه ګټې اخيستني لپاره د IASC اصول موجود دي:
.http://www.pseateaskforce.org/uploads/tools/sixcoreprinciplesrelationtosea_english.doc
دغه د ساده ژبی شکل، د ناوړه جنسی استفادی څخه د متاثره نفوس د محاسبی وظیفوی تیم IASC او او ټرانسلیشن ویدوت بوردرس (بی سرحده ترجمانانو) د گډی همکاری په نتیجه کی جوړشوی دی.